د ۲۰۰۰ م کال د ســپټمبر پــه څلورمــه ســپیني ماڼۍ د یوې غونډې په ترخ کې د افغانســتان په اړه یوه پالیسۍ تصویب کړه چې په هغې کې له احمدشــاه مســعود او د اسلامي امارت له نورو مخالفانو ســره د مالي، تســلیحاتي او لوژستیکي مرستو موارد او څرنګوالی شــامل وو. په دې سره د سي آی اې حقوقي ســلاکارانو له ترهګرۍ ســره د مبــارزې اداري پــه همکارۍ د ولسمشــر لپاره د داســې حکم پــه چمتو کولــو کار پیل کړ چې په افغانســتان کې یې د پټــو عملیاتو ترسره کولو ته لاره هواروله .

**نور بیا ...**

# د حماسو او انقلابونو رهبر دریم عمر

مولوي نورالحق مظهري

په داســې وخت کې چې په نړۍ کې د اســلام سیاســي نظام هېڅ شــتون نه درلود او په افغانســتان کې د روســانو له ماتې وروسته خپلسریو او پاټک ســالاریو ټول هېواد په سر اخیستی و د روســانو په مقابــل کې د جهادي بهیر یو تــن مجاهد او د مبارزینو د کاروان ګډونوال د ظلم، فساد او لنډغرۍ په وړاندې را پورته شو او په جهادي مبارزه یې د هېواد ډېره برخه د ښایسته اســلامي نظام په عدل ښایســته کړه او محمدي شریعت یې د قانــون په صفت پــه هېواد کې نافذ کړ؛ هغــه کس ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله و، نوموړی داســی مشر و، چې په هېواد کې یې په خپلې واکمنۍ کې داســې شرعي نظام راوست چې د اســلامي خلافت د ســقوط را پدې خوا یې نمونه نه وه لیدل سوې؛

داسې مشر و، چې نړۍ ته یې د هغه خلکو طاقت او توان وښود چې خلکو ورســره پاچاهي بده ګڼله بلکې د هغوی وظیفه یې یوازې د ماشــوم په غوږ کې آذان، پــه جوماتونو کې امامت، د مړو پرېبول او داسې نور شیان بلل؛

داســې مشــر و، چې ټول قوماندانان یې د اخلاقو، اخلاص او ساده سیرت څخه متأثر شوي وو او یوه ذره یې ورڅخه بغاوت نه کوی؛

داســې مشــر و، چې هر چا یوځلې لیدلــی وای ټوله عمر یې تعریــف کوي او په تنها لیدلو یې تر تأثیر لاندې راتلی؛

داســې مشــر و، چې د نړۍ ټول رښــتیني مجاهدین یې اتل، قهرمان او عمر ثالث بولي؛

داسې مشــر و چې د فرمان چلېدلو ته یې نه د فیلم اړتیا وه، نه د تصویــر اړتیا وه او نه هم د رېغ بلکې په لیکلو پیغامونو او نامه یې فرمان چلېدی.

داسې مشر و، چې د یوه مسلمان مجاهد لپاره یې ټول حکومت له لاســه ورکړ خو د کفر غلامي یې قبوله نه کړه او د اســلام د هیبت او وقار شمله یې ټیټه نه کړه؛

داســې مشــر و، چې کله امریکا ورڅخه د اسامه ورســپارلو غوښــتنه کوله د ځینو خلکو سره مشوره کوي څوك ورته وایي: د اسامه ســپارل ضرر قلیل دی او زموږ د اسلامي نظام پاتېدل منفعت کثیر دی د ډېر منفعت لپاره ســړی لږ ضرر ګالي؛ دی ورته وایي: ډېر منفعت د اســلام د هیبت او وقار ســاتل دي، د اســلام د حریت او ایماني عزم ښــکاره کول دي او کافر ته نه تســلیمېدل دي او لږ ضرر زما د حکومت له لاسه ورکول دي؛ زه خپل حکومت له لاســه ورکوم خو د اســلام وقار او عزت نه کښــته کوم؛ هېڅکله به اسامه امریکایانو ته تسلیم نه کړم؛

داســې مشــر و، چې په یوه فرمان یې په ټول هېواد کې مطلقاً د نشه ییزو توکو کرل عملي بند کړل؛

داســې مشــر و، چې له دنیا ولاړ، خو نه یې شخصي ښارګوټې پرېښودل نه یې لویې بنګلې او ساختمانونه پرېښودل؛

داســې مشر و، چې کله به د خپلو ملګرو سره پر لاره روان وو د چا په فکر کې به نه راتله چې دغه به مشر وي؛

داســې مشر و، چې د یوې خاورینې جونګړې څخه یې د داسې حرکت قیادت کوي چې د ٤٧ متکبرو هېوادونو سره یې مقابله کول؛

داسې مشــر و، چې نه یې مال ډېر وو، نه یې نفر ډېر و او نه یې هم ځمکه ډېره وه په خپل قوي ایمان او اوسپنیز عزم یې ځان د هر شي څخه مســتغني کړی و او د نړۍ له ټولو لوی زبرځواك یې په همدغه ایماني قوت او الهي نصرت باندې مات کړ؛

داســې مشــر و، چې په خپلې واکمنۍ کې یې داســې امنیت راوستلی و، چې په بازارونو کې به د لمانځه پر وخت د دوکانونو دروازې خلاصې وې یوه سورۍ ستن به هم نه غلا کېدل؛

او داســې مشــر و، چې د هر چا ســره یې موافقت او مخالفت یوائې د الله تعالی د دین لپاره وو.

الله تعالی دې قبر د جنت باغچه وګرځوي او د ده مجاهدینو ته دې الله تعالی د ده پر قدم د تللو توفیق ورکړي.

په رښــتیا چې دغــه ته وایي مشــر. الله پــاك دې ورته جنت الفردوس ورکړي.

# فلسطین او اتیا کاله مبارزه

**ژباړن: سلطان جان خاکسار / دویمه برخه**

**په اسلامي خلافتونو کې د قدس او فلسطین دریځ ته کتنه**

قدس او فلسطین د امیرالمومنین حضرت عمر فاروق ض الله تعالی عنه په وخت کې فتح شوي. رسول الله صل الله علیه وسلم شداد بن اوس ته زېرى ورکړى و چې بیت المقدس به په ډېر نږدې وخت کې فتح او د مسلمانانو لاسونو ته به ولوېږي.( دلته دا یادونه اړینه ده چې د رسول ص له بعثت وروسته هم کلونه کلونه بیت المقدس د صلیبیانو په لاسونو کې و او همدا لومړى تمځاى و چې رسول اکرم ص اسمانونو ته ترې پورته شوی و.) طبراني وايي: ((شام به فتح شي، بیت المقدس به فتح شي.)) مسلمانانو په ۶۳۴ میلادي کال کې چې د امیرالمومنین حضرت عمرفاروق رض زمانه وه، د عمرو بن عاص رض په مشرۍ اجنادین کې صلیبیان له شرمونکې ماتې سره مخ کړل. دغه مهال عمرو بن عاص د نورو صحابه کرامو په سرښندنه د بیستان، غزې، نابلس، لود، یافا او نور ښارونه ترلاسه کړل. له دغه نېټې یوه دوه کاله وروسته یعنې په ۶۳۶ میلادي کې د حضرت خالد بن ولید په مشرۍ په یرموک ستر جنګ کې صلیبیان مات او د قدس ښار هم د مسلمانانو تر ولکې لاندې راغی. یوه یادونه باید وکړو چې قدس د ابو عبیده بن جراح او د حضرت عمر بن عاص په ملګرتیا او ګډې قومندې څلور میاشتې د مسلمانانو په کلابندۍ کې و. صلیبیان مجبور شول چې سولې ته غاړه کېږدي خو یو شرط یې کېښود چې د سولې لوړى به حضرت عمر فاروق( د مسلمانو دویم خلیفه) وي. حضرت عمر فاروق رض دا سوله په دې خاطر هم ومنله چې د مسلمانو څرګند بری یې لیده. وروسته یې حضرت علي رض د ځان ځیناستی کړ او په خپله قدس ته ورغی، تر څو د سولې تړون لاسلیک کړي. د دغې سولې مذاکره کوونکي پلاوي کې خالد بن ولید، عمرو بن عاص، عبدالرحمن بن عوف او معاویه بن سفیان رض الله عنهم وو.

دا سوله د هجري کلونو په حساب په ۱۵ کال لاسلیک شوې. دا هغه کال و چې قدس کې د اسلام ډیوه بله شوه. دا هغه مهال دی چې قدس په واقعي مانا خپل بایللی عظمت او ارزښت ترلاسه کړ. بل خوا، د عباسیانو او امویانو پر مهال فلسطین د اسلامي حکومت له بنسټیزو مرکزونو څخه ګڼل کېده.

**د سلطان صلاح الدین ایوبي په لاس د قدس فتح**

د عباسیانو او امویانو تر خپلمنځي اړدوړ او د اسلامي خلافتونو تر نړېدو وروسته فلسطین او بیت المقدس یو ځل بیا د صلیبیانو لاسونو ته ولوېد. دا ځل په ۱۰۹۹ عیسوي کال د اسلام د ستر فاتح سلطان صلاح الدین ایوبي په مټ بیت المقدس د صلیبیانو له سلطې خلاص شو. که څه هم په دې جګړو کې شاوخوا ۷۰ مسلمانان هم شهیدان شول، خو دا هغه مهال و چې فلسطین په بشپړه توګه د مسلمانانو په ولکه کې شو. پوره ۸۸ کاله بیت المقدس د صلیبیانو لاسونو ته لوېدلی و. دا ځل د عمادالدین او نورالدین زنګي لښکرې له صلیبانو سره وجنګېدې او بیا صلاح الدین ایوبي په یوه برخلیک ټاکونکې جګړه(حطین) کې صلیبیان تارومار کړل. په ۱۲۹۱ میلادي کال کې مسلمانان په دې وتوانېدل چې فلسطین په بشپړه توګه د فلسطینیانو له بتانو پاک کړي.

**فسطین په عثماني خلافت کې**

د عثماني خلافت پر مهال او پېر کې فلسطین د مسلمانو اصلي مرکز او سیاسي ځایګی و. ۱۵۱۶ میلادي کلونو کې فلسطین له ځانګړي سیاسي ارزښته برخوردار و او پوره څلور پېړۍ د عثمانیانو تر ولکې لاندې و. په ۱۸۵۰ میلادي کال کې د عثمانیانو خلیفه عبدالمجید فلسطین ته د صهیونستانو د راتګ او مهاجرت هغه طرحه رد کړه، کومه چې انګلیسانو جوړه کړې وه. حتی په ۱۸۹۲ میلادي کال کې د نوموړي زوی سلطان عبدالحمید وتوانېده چې له فلسطینه د صهیونستانو ټول ښارګوټي وباسي.

**قلسطین ته د یهودانو ډله ییز لېږد**

تر لومړي نړیوالې جګړې مخکې یهودي صهیونستانو په سویس کې یوه کنګره چمتو کړه چې تر ټولو ستر بحث او مصوبه یې فلسطین ته د صهیونستانو ډله ییز لېږد و. بحث او موافقه پر دې وشوه چې صهیونستان به فلسطین ته ولېږدول شي او هلته به یو خپلواک هېواد رامنځته کړي چې نوم به یې اسراییل او پلازمېنه به یې تل اویو وي. صهیونستانو ته په دغه کنګره کې وویل شو چې له ارجنټاین، اوګانډا، جبل الاخضر او یا هم بل کوم ټاټوبی غوره کړي، خو صهیونستانو نه یوه کړه نه بله یوازې یې فلسطین او بیت المقدس غوښت. د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال انګلستانو له عربانو سره اړیکې ورغولې او په دې خاطر یې له عثماني خلافاوو سره په جنګ وارول.

**فلسطین دانګلستان مستعمره**

تر لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته چې عثماني خلافت د فرانسې او انګلستان په لاس سقوط شو، نو د اسلامي نړۍ پولې ونړېدې او ګڼ دولتونه یې رامنځته کړل. کفارو په دغه خطه کې سوریه، اردن، لبنان، عراق او ګڼ عربي ممالک رامنځته کړل. حتی په دغو هېوادونو کې داسې هم و چې مستقیماً د انګلستان په ولکه او کنټرول کې پاتې شول. اردن، عربي او خلیجي هېوادونه د انګستانو غیر مستقیمې مستعمرې وې او هلته یې ګوډاګي واکمنان واکمن او د دوی په الفبا به مخکې تلل. بل پلو، اردن او لبنان هغه هېوادونه و چې د فرانسې تر قانون او ایین لاندې راغلل. سیمه کې د کفارو پرله پسې نفوذ وکولی شو، چې اسراییلي حکومت بنسټونه پیاوړي کړي او نور هم د دوی ملګرتیا ته رابولي.

**دامپریالېزم طرحه او د فلسطینیانو پاڅون**

له ۱۹۱۷-۱۹۴۸ پورې انګلستان د برتیانیې په اشغال کې و. په لومړیو کې بریتانویان د یهودانو کلک او نږدې ملاتړي وو، له هغه وروسته امریکا د اسراییلو پراخ ملاتړ ته راودانګل او فلسطین ته یې د صهیونستانو د ډله ییز لېږد زمینه برابره کړه. دوی په رسمي بیانونو کې ومنله چې فلسطین د یهودو خپلواک هېواد دی. د یهودانو له ډله ییز لېږد وورسته د دغې سیمې بومیانو او اصلي استوګنو د غربیانو او انګلیسانو د دې طرحې پر وړاندې پر پراخ لاریون او پاڅون لاس پورې کړ. فرانسې او انګلستان، د دې لپاره چې پر دې اور اوبه تو ی کړي او د فلسطینیانو او یهودانو کړکېچ کم کړي، نو عربو ګوډاګیو واکمنانو ته یې مخه کړه او هغوی یې د لاسپاک په څېر وکارول. بالاخره په ۱۹۱۹ میلادي کال کې په پاریس کې د سولې یو کنفرانس دایر شو چې د سورېې پاچا امیر فیصل د انګلیس او فرانسې د فشارونو له کبله د عربو عمومي استازولي ته غاړه کېښوده او په دغه سیمه کې د یهودو او فلسطینیانو د شتون طرحه تائید کړه. له دغه تړون سره په سیمه کې پراخ لاریونونه وشول. په ۱۹۲۰ کې فلسطینیانو په پراخه کچه لاریونونه وکړل چې د بریتانوي رژیم مداخله یې پکې وغندله. پارېدلي فلسطینیان په مسجدالاقصی کې راټول شول او د یهودو له نظامیانو سره په شخړه واوښتل. په دغه جګړه کې یو شمېر معترضان شهیدان او په بیت المقدس کې د انګلستان ګڼ تاسیسات او مانۍ وسوځول شوې چې بې حسابه لوی مالي زیان وراوښت.

# د ساینس پرمختګ کې د مسلمانانو رول

**دویمه برخه - لیکوال: پروفیسور ارشد جاوید - ژباړه: انوارالحق عاصم**

اسلامي نړۍ کې د ساینس پیل په لومړۍ هجري پېړۍ هغه وخت وشو چې امیرمعاویه رضی الله عنه په امر (۶۰)مه هجري کې د طب یو کتاب له یوناني نه عربي ته وژباړل شو، بیا د نوموړي لمسي خالد (۷۰۴م) دې ته پراختیا ورکړه، له نوموړي وروسته مامون الرشید (۸۱۳-۸۳۳م) په پراخه کچه د ژباړې لپاره د «بیت الحکمة» په نامه د یو مرکز بنسټ کېښود، چې د راتلونکې لپاره په ساینس کې د څېړنو په مرکز بدل شو، ژباړونکو ته به د ښه معاش سربېره د کتاب د وزن په اندازه سره زر هم ورکول کېده، په همدې شکل تر لسمې عیسوي پېړۍ پورې د نورو ژبو مهم علوم عربي ته انتقال شول.

مسلمانانو یواځې یوناني علوم ونه ژباړل بلکې د هغې یې تنقیدي بیا کتنه هم وکړه، تېروتنې یې یواځې په نښه نه بلکې د هغې اصلاح یې هم وکړه، همداسې بېلابېل ساینسي علوم لکه: کیمیا، فزیک، ریاضي، میخانیک، نباتیات، حیوانیات، فلکیات، طب او ... ته پراختیا ورکړه، په دې کې یې د خپلو تجربو او څېړنو په رڼا کې د پام وړ زیاتونې وکړې چې د ساینس په تاریخ کې اوس یوه مهمه برخه ګرځېدلې ده.

په منځنۍ پېړیو کې مسلمانو ساینسپوهانو ساینس ته بې کچې پراختیا ورکړه تر دې چې د ټولو معاصرو ملتونو نه مخکې لاړل، مسلمانانو په اتمه پېړۍ کې ساینسي څېړنې پیل کړې او د اوولسمې پېړۍ تر پیله یې رواني وساتلې، په دې کې له نهمې تر دیارلسمې یانې پنځه پېړۍ د عروج دي چې لسمه او یوولسمه پېړۍ د مسلمانانو علومو او فنونو د پرمختګ څوکې(Peak) په نامه یادېږي، که په هغه وخت کې نوبل جایزې وای نو مسلمانانو به کم تر کمه څلور زره نوبل جایزې ګټلې وای.

مسلمانانو نه یواځې دا چې ساینس ته پرمختګ ورکړ، بلکې نورو ملتونو ته یې هم وښود، له مسلمانانو څخه ساینسي علوم تر ټولو ډېر اروپایي ملتونو لکه پرتګالیانو، فرانسویانو، ایټالویانو او انګرېزانو زده کړل.

د (Ecclesiastical History) لیکوال موشین وایي:« ددې اعتراف باید وشي چې فزیک دی که ستورپوهنه، فلسفه ده که ریاضي، کیمیا ده که نور علوم چې د لسمې پېړۍ په اوږدو کې اروپا کې خپاره شول؛ په واقعیت کې د عربو علماوو نه وو زده شوي » یو بل تاریخپوه «ډکن ناوس» په دې اعتراف کوي، چې «د مسلمانانو له علمي هڅو، د تألیف او تدریس سرګرمیو نه پرته د اروپا پر ځمکه د ګلیلو او نیوټن څرګندېدل ناممکنه وه».

مشهور تاریخپوه فلپ کې حتي (Philip k. Hatti) لیکي چې: «دیارلسمې پېړۍ تر پایه عربي ساینس او فلسفه اروپا ته انتقال شوې وه».

د مسلمانانو په ساینسي کارنامو له کلونو راهیسې څېړونکی یو جرمني ریاضي پوه (E. Wiedemann) ویلي دي: «سمه ده چې عربانو ځینې نظریات له یونانیانو اخیستي وو البته دوی په دې نظریاتو ځانونه قانع او په بېلابېلو وختونو کې یې د حالاتو موافق تطبیق کړل، بیا دوی نوي نظریات او عجیبه څېړنې وړاندې کړې، په همدې ډول د دوی علمي خدمات له نیوټن او نورو پوهانو له هڅو کم نه دي». ډرېپر (Draper) لیکي: «د مسلمانانو د عروج پر مهال پخواني علومو کې د پام وړ زیاتونې وشوې او د ډېرو نویو علومو بنسټ کېښودل شو» د بېلګې په ډول کیمیا، الجبر، هندسه، مثلثات، جغرافیه او ... علومو ایجاد همدې مسلمانانو کړی، د ساینس نورو څانګو په ځانګړي ډول فزیک او حساب ته یې ډېره پراختیا ورکړه.

جورج سارټن وایي، چې په منځنیو پېړیو کې ساینس ته د پرمختګ ورکولو تاج د مسلمانانو په سر دی، دوولسمه او دیارلسمه پېړۍ کې مسلمانان په حساب او فلکیاتو علم کې له اروپایانو ډېر مخکې وو، له شپاړسمې پېړۍ څخه د اروپا د پرمختګ دوره پیل شوه، د اتمې پېړۍ له نیمایي څخه د پنځلسمې پېړۍ تر پایه پورې یعنې مسلمانانو له ساینس نه (۷۰۰) کاله خپله هم ګټه پورته کړه او نور یې هم ترې برخمن کړل.

د ساینس په ذکر کې د مسلمانانو د پُرجوشې بوختیا دور له نهمې عیسوي پېړۍ نه تر دیارلسمې پېړۍ پورې و، په دې پنځه پېړیو کې مسلمان ساینسپوهان د ساینس په ذکر کې له ټولو ملتونو نه مخکې وو، د دې اټکل له دې کېږي چې د ساینس تاریخپوهانو د یوې کتنې سره سم په یادو پېړیو کې چې څومره نامتو ساینسپوهان پیدا شوي په دې کې لویه برخه د مسلمانانو ساینسپوهانو وه، یعنې په ساینس کې موږ زبرخواک و.

په لوېدیځ کې چې هغه مهال څومره مشهور ساینسپوهان پیدا شوي ول، (۷۰) سلنه ساینسپوهانو د مسلمانانو له کتابونو نه په ګټې اخیستلو دا مقام لاسته راوړی و، په منځنیو پېړیو کې چې د اروپا په لویه وچه څومره ساینسپوهان پیدا شوي ټول یا زیاتره په هغو هېوادونو کې پیدا شوي چې د هسپانیا(اندلس) په ګاونډ کې پراته وو، یعنې فرانسه، ایټالیا، جرمني، سسلي، برېتانیا او بلجیم دي، له لرو پرتو هېوادونو څخه په پولینډ کې یو ساینسپوه پیدا شوی و، په یونان، هنګري، اسټریا، البانیا، رومانیا، چیک سلواکیا، ناروی، سویډن، فنلینډ، روسیه او ... کې یو هم نه و، دا واقعیت خپله د دې ښکارندویي کوي چې د مسلمانې هسپانیا له برکته هغه مهال اروپایي ساینسپوهانو په ساینس کې عالي مقامونه لاسته راوړل، چې لرې پراته هېوادونه بیا له دې خیره بې برخې ول.

اروپایانو د مسلمانانو کتابونه وژباړل او ساینسي څېړنو ته یې پرمختګ ورکړ، البته په دې برخه کې یې ستر خیانت دا وکړ، چې دا کتابونه یې په لاتیني ژبه وژباړل او د لیکوالانو نومونه یې هم لاتیني ته وژباړل چې له کبله یې پېژندګلوي ستونزمنه شوه، څوک نه پوهېدل چې دا کتابونه مسلمانانو لیکلي او که غیرمسلمو لیکلی دي.

الرازي (Rhazes)، ابن سینا (Avicenna)، ابن رُشد (Averroes) البستاني (Albatinius)، ابن الهیثم (Alhazem) او ... ته وژباړل.

(R. Briffault) لیکي چې « د اروپا د پرمختګ په هره برخه کې د اسلامي تمدن نښې نښانې له ورایه ښکاري، البته دا آثار دومره واضح او مهم نه دي څومره اهمیت چې د دې ځواک په ښکاره کېدو کې دی، چې د نوې نړۍ د پرمختګ له ټولو ستر راز دی یعنې ساینس او ساینسي فکري تګلاره».

بدبختانه چې موږ د مسلمان ساینسپوهانو خدماتو، نوښتونو او څېړنو په هکله مکمل معلومات نلرو؛ ځکه چې د مسلمانانو له درې میلیونو ډېر کتابونه د اور او اوبو خوراک شول، ول ډیورانټ لیکي:

«مسلمانانو چې په دنیوي علومو کې څومره پرمختګ کړی و د دې دقیق اټکل ممکن ځکه نه دی، چې د وختونو له ناخوالو کوم څه اوس پاتې دي؛ د هغې ډېره کوچنۍ برخه ده، د مسلمانانو د زرینې دورې له کتابونو په زرو کې یو هم اوس نشته».

**نوربیا...**

## غزې ته!

**استاد فضل ولي ناګار**

په بوتکدو به د توحید روښانه لمر ولګي
که سپین سپین ستوري د غزې په سره ټټر ولګي
له روهه بار کړئ زر د مستو تکبیرونو کاروان
چې په تیارو د مقدس کور کې سهر ولګي
استشهادي لښکرو پورته کړئ بیرغ د مهدي
چې بیا دنیا ته زور د الله اکبر ولګي
په اوږو بار یې ګرځوي له شرمه زوړند زوړند
په ثمودي تندر دې دا بې ننګه سر ولګي
د شیطان ښکر، د دجال څنګ، مجرمانه خاموشي
اور دې په هر «تغریب» ځپلي ګونګ رهبر ولګي
ای شازلمیه د دعا د پیغمبر تعبیر یې
ستا توپاني پرتم به لا په بحر و بر ولګي
له ګنهکارې غاړې یې تاو شول د مظلوم اسویلي
اور به په ټنده د کسرا او د قیصر ولګید
د خدای حضور کې د غزې د ماشومانو وینې
له ډېره تاوه به یې لمبې ان په محشر ولګي
د رنګینۍ جلال پیکه ناورین د شعر نه کا
ناګاره پرېږده چې په نښه برابر ولګي

## بې له شکه چې ولیان وو!

**جهادي عمري**

زمانې ورته سلام کړی، دجهاد ستر رهبران و
که عمر و، که منصور و، د دې عصر آتلان و
دننګونو روښان ستوري، د غیرت په شنه آسمان و
بې له شکه چې ولیان و، تاریخونه پرې ودان و
څه له مینې ډک سرې وو ، غیرتي وطن روزلي
له څېرو نه ملنګان و ، په خویونو پاچهان و
قدرتونه د جهان یې، ایماني غرور کړل ستړي
قوي عزم ارادو یې، حیران کړی درست جهان و
پیاوړتیا اوسپېڅلتوب یې، د عمر او دصدیق و
امامان د خپل ولس و ، د جهاد د بڼ ګلان و
له یتیم، یتیم ولس نه، نه هیرېږي، نه به هېر شي
تل به زړونو کې اباد وي، دوه ویاړلي امیران و
د وحدت په ترنم یې ، امارت لا بدرګه دی
جهادي سپېڅلي خَلک وو، په سپینه لار روان و

# افغان اعلانات

### اعلان داوطلبی

شماره داوطلبی:NSIA/1403/NCB/G.180
اداره ملی احصائیه و معلومات از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی بازداخلی تهیه و تدارک رنگ پرنتر و قرطاسیه باب مورد نیاز اداره ملی احصائیه و معلومات بابت سال مالی ۱۴۰۳ اشتراک نموده و شرطنامه آنرا به شکل سافت و بطور رایگان از آمریت تدارکات اطاق نمبر A-40 منزل اول اداره ملی احصائیه و معلومات واقع ناحیه هفتم، سرک چهلستون، نزدیک باغ بابر کابل و همچنان از سایت ریاست تدارکات ملی بدست آورده و آفرهای خویش را مطابق به شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طوری سربسته، از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر روز شنبه مؤرخ ۲۹ ثور ۱۴۰۳ به ریاست تدارکات این اداره ارایه نمایند، آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد.
تضمین آفر به شکل تضمین بانکی به ارزش مجموعی مبلغ ۳۱۷,۸۹۲ سه صد و هفده هزار و هشت صد و نود و دو افغانی بوده و جلسه آفرگشایی آن به ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر روز شنبه مؤرخ ۲۹ ثور ۱۴۰۳ در تالار کنفرانس های اداره ملی احصائیه و معلومات تدویر میگردد.

***

### اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترمه محبوبه نیازی بنت عزیز قل ولدیت نیاز قل دارنده تذکره نمبر ( ۱۵۶۱۵- ۰۹۰۱ -۱۴۰۲ ) مسکونه اصلی ولایت سمنگان مالک امتیاز دواخانه نیازی واقع ولسوالی نهر شاهی ولایت بلخ عنوانی این اداره عارض و از مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۵۶۸

***

### اطلاعیه

اسامی زمان الدین تعمیر دو منزله و پنج باب اطاق ملکیت شرکت امارتی ارزاق واقع جوار سیلوی مرکز را که قست تخریب شده و به ترمیم ضرورت دارد به کرایه ماهوار مبلغ ۱۸۰۰۰ افغانی به شرط ترمیم بدون پرداخت دوباره مصارف تقاضا نموده اند.
اشخاص و شرکت های واجد شرایط که به جایداد فوق ضرورت داشته باشند و کرایه بیشتر بپردازند درخواست های خویش را الی مدت ۱٤ یوم از نشر اعلان به آمریت املاک ، شرکت امارتی ارزاق واقع جوار سیلوی مرکز سپرده خود شان به روز مزایده حاضر شوند . شرطنامه مرتبه را در بدل قیمت معین بدون بازگشت بدست آورده میتوانند تضمین نقدا اخذ می شود.۵۸۰

***

### اعلان

د عدلیې وزارت د انسجام لوی ریاست د تولنو چارو ریاست په پام کې لري چې د تولنې دلانبه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنستونو له کرنلارې سره سم، بنیاد خیریه کوثر زلال ته د فعالیت جواز ورکړي
دیاد جواز اخیستلو لپاره شریف الله شریفي د عبدالطیف زوی ، د تخار ولایت خواجه بهاو الدین ولسوالۍ اصلي او د تخار ولایت مرکز ولسوالۍ فعلي اوسېدونکی د رییس ، او جمال الدین د فیض الله زوی د تخار ولایت ینګي قلعه ولسوالۍ اصلي او د تخار ولایت مرکز ولسوالۍ فعلي اوسېدونکی د مرستیال په توګه عارض شوی که پر یادو اشخاصو دصنف اړوند کوم څوک نیوکه لري د اعلان له نیتې څخه تر لسو ورځو پورې د عدلیې وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلې بڼه وړاندې کړې له یادې نیټې وروسته به نوموړو اشخاصوته د فعالیت جواز صادریږي چې دجواز د صدور له نیتې څخه د جوار نهایي نیټې پوري په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لري .۶۰۳

***

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم عمرت الله شاغاسی فرزند قدرت الله شاغاسی ولدیت اشرف علی شاغاسی دارنده تذکره نمبر ( ۳۷۵۳۸-۰۱۰۱- ۱۴۰۳) مسکونه اصلی ولایت کابل مالک امتیاز دواخانه خاورین واقع ناحیه دهم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم محمد الله نوابی فرزند حفیظ الله نوابی ولدیت غلام حسین نوابی دارنده تذکره شماره ( ۱۶۷۸۰- ۱۰۰۰- ۱۴۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت کابل گردیده است .
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۵۹۶

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم محمد فرزند محمد رازق یک عراده موتر پلیت ۸۸۳٤٤ ل کابل نوع هندای پورتر کوریای خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای امان جان فرزند محمدا جان بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۵۹۲

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم محمد ناصر فرزند داد محمد یک عراده موتر پلیت ۲۳۳۷۳ تکسی کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای مجیب الرحمن فرزند خوانی بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۵۸۶

***

### اعلان دعوت به داوطلبی

عنوان: پروژه خریداری اکونت های پلیچریزم ، Chat-GPT و گرامرلی برای ریاست تحقیق، تالیف و ترجمه
شماره دعوت به داوطلبی:
MOHE/1403/NCB/NC-02
وزارت تحصیلات عالی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه خریداری اکونت های پلیچریزم ، Chat-GPT و گرامری برای ریاست تحقیق، تالیف و ترجمه اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوط را به طور رایگان در حافظه یا فلش دسک از ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت {۱۰:۰۰} قبل از ظهر به روز {پنجشنه} تاریخ {۱٤۰۳/۲۷/۰۲} به ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار ناحیه سوم کابل افغانستان ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر به شکل بانک گرنتی مبلغ (۱,۰۰۰,۰۰۰) یک میلیون افغانی ارایه گردد.
تضمین آفر باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد، یعنی مدت ۱۱۸ روز از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبار باشد.
جلسه آفر گشایی به روز { پنجشنبه} تاریخ {۱٤۰۳/۰۲/۲۷} ساعت {۱۰:۰۰قبل از ظهر} در{صالون آفرگشایی ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار ناحیه سوم کابل افغانستان} تدویر می گردد.
شماره تماس:۰۲۰۲۵۱٤۰۷۸
آدرس الکترونیکی: gamail.com@saririnasrat۹۰
نوت: جلسه قبل از آفرگشایی به روز دوشنبه ۱٤۰۲/۰۲/۱۷ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در آمریت تدارکات اجناس و خدمات ، ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی تدویر می گردد.٦۱٤

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت برادران نبی زاده لمتید یک عراده موتر پلیت ۸۹٦ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای خال محمد فرزند غریب محمد حسین بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۵۹۱

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم محمد ظاهر فرزند محمد ناصر یک عراده موتر پلیت ۲۳٤۵۵ تکسی کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای مجیب الرحمن فرزند خوانی بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند.۵۸٤

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت تواب شکیب لمتید یک عراده موتر پلیت ۲٤۹۵۸-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای سید اسماعیل فرزند سید امیر حسین بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۵۷۹

***

### اعلان دعوت به داوطلبی

موضوع : پروژه تهیه و تدارک وسایل تکنالوژی برای کنفرانس روم جامعات دینی ننگرهار، هرات، کندز بلخ، پکتیا و هلمند شامل ٦ لات
شماره دعوت به داوطلبی
MOHE/1402/NCB/G-76
وزارت تحصیلات عالی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه و تدارک وسایل تکنالوژی برای کنفرانس روم جامعات دینی ننگرهار، هرات، کندز بلخ، پکتیا و هلمند شامل ٦ لات اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوط را به طور رایگان در حافظه یا فلش دسک از ریاست تدارکات، وزارت تحصیلات عالی بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت {۲:۰۰{ بعد از ظهر روز شنبه} تاریخ {۱٤۰۳/۰۲/۲۹} به ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار ناحیه سوم کابل افغانستان ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر به شکل بانک گرنتی:
۱- لات اول(ننگرهار)مبلغ (۲۰,۰۰۰)افغانی
۲-لات دوم(هرات) مبلغ (۲۰,۰۰۰)افغانی
۳-لات سوم (کندز)مبلغ (۲۰,۰۰۰)افغانی
٤-لات چهارم(بلخ)مبلغ (۲۰,۰۰۰)افغانی
۵-لات پنجم(پکتیا)مبلغ (۲۰,۰۰۰)افغانی
٦- لات ششم(هلمند)مبلغ (۲۰,۰۰۰)افغانی و یا برای (شش لات) مبلغ (۱۲۰,۰۰۰)افغانی
جلسه آفر گشایی به روز{شنبه}تاریخ {۱٤۰۳/۰۲/۲۹}ساعت {۲:۰۰ بعد ازظهر}در {صالون آفرگشایی ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار، ناحیه سوم،کابل افغانستان}تدویر می گردد.
شماره تماس:۰۲۰۲۵۱٤۱۸۲ - آدرس الکترونیکی:
gmail.com@taherahsas۲۹
٦۱۱

***

### شرکت تصفیه نمک آیودین دار پامیر بلور:

هشدار از تقلب علامت تجارتی ( صحت شما و دملت)
طوریکه اکثر اشخاص حقیقی و حکمی آگاهی دارند که شرکت تصفیه نمک آیودین دار پامیر بلور از سال ۱۳۸۹ به این طرف که مالک امتیاز جواز نمبر ۲۹٦٦۹ - D می باشد در پارک صنعتی امیرعلی شیرنوائی ولایت بلخ موقعیت داشته و بزرگترین فابریکه تصفیه در سکتور نمک می باشد که محصولات تولیدی آن توسط ماشین آلات مجهز به شکل استندرد و معیاری آن تصفیه و بعد از علاوه نمودن آیودین مطابق نورم وزارت محترم صحت عامه در اکثر ولایات کشور طور مستقیم تحت برند نمک تصفیه شده و آیودین دار (صحت شما) و (دملت)تصفیه شوی او آیودین لرونکی مالگه که در طبقه ۳۰ شامل نمک خوراکی به شماره های ( ۱۱۰۸۵، ۱۱۰۸۳ و ۱۲۰۰٤) به ثبت رسیده و دارای گواهی نامه های استندرد بین المللی نیز می باشد مطابق احکام مواد ۱۹ و ۲۰ و فقره ۱ ماده ۱۳ قانون ثبت علایم تجارتی فعالیت و نمک تصفیه شده و آیودین دار استندرد عرضه می نماید که الحمدالله در این سکتور برای بیشتر از هزار نفر طور مستقیم و غیر مستقیم زمینه کار و اشتغالزائی فراهم شده است. ولی متأسفانه بعضی از اشخاص حقیقی و حکمی فرصت طلب خلاف احکام مواد ۱۹ ،۲۰ و فقره ۱ ماده ۱۳ قانون ثبت علایم تجارتی بدون اینکه تصدیق برند و علامت تجارتی از وزارت محترم صنعت و تجارت داشته باشد از پسوند و پیشوند برند صحت شما و د ملت و علایم تجارتی مشابه در بازار به قسم تقلب نمک غیر تصفیه شده بدون آیودین راعرضه می نماید که بعضی از آنها قرار ذیل است :
( ضد ضرر صحت شما،منظورصحت عامه شما، ملت، کوه سلطان نوی صحت شما، یوملت، صحبت شما، صحت از شما، صحت وطن، صدف طعام منظور شده صحت عامه، برای صحت، صحت اطفال وخانواده های شما، صحت پامیر مالگه، سوپرصحت، محبت شما، خیبرصحت، صحت شما نوین، آرمان صحت، صحت تمدن زیبا، نوی صحت شما، کرستال صحت، ضرورت شما، مقاومت صحت، صحت نوین، الماس صحت، ارمغان صحت، ابرارصحت و صحت ما) و بعضی از شرکت هایکه به پسوند شما بعد از اخذ اظهار نامه برند صحت شما و دملت اظهار نامه اخذ نموده اند موضوعات آن از طریق محاکم ان شاءالله به زودی رسیده گی خواهد شد و خوشبختانه در این اواخر مقام محترم وزارت صنعت و تجارت به اساس حکم مورخ ۲۷/ ۰۹ / ۱٤٤۵ به شعبات ذیربط هدایت نموده اند که برند صحت شما و دملت با پیشوند و پسوند آن در آینده به هیچ کس اظهار نامه داده نشود و چنین حکم نموده « د پورته حیرنو په اساس کوم شرکتونه چی ثبت دی، هغه به د قانون مطابق محکمی له طرفه حل شی او کوم چی ثبت نه دی هغه دی آئنده کی ثبت نشی » بناءً از تمام اشخاص حقیقی و حکمی فرصت طلب که خلاف احکام مواد ۱۹ ،۲۰ و فقره ۱ ماده ۱۳ قانون ثبت علایم تجارتی نمک غیر تصفیه شده وبدون آیودین را به قسم تقلب از پسوند و پیشوند برند (صحت شما) و (دملت) و علایم تجارتی مشابه در بازار عرضه می نماید تقاضامندیم که از فعالیت خویش دست بردارند! در غیر آن تمام خسارات که به این فابریکه عاید گردیده و جزاهای که مطابق شریعت بالای آنها تطبیق میگردد از طرق مراجع مربوطه تعقیب خواهند نمود .٦۱۲

***

### دعوت به داوطلبی!

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی (پروژه ترمیم اطاقهای دروازه دخولی و خروجی گمرک ولایت هرات، وزارت مالیه ) دارای نمبر تشخیصیه MOF/1403/NCB/W-014 که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۱۹/ ثور /۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲۹/ ثور /۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر : به مبلغ ۲٤,۰۰۰ (بیست چهار هزار) افغانی میباشد.
آدرس:وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان - ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
Yahoo Mail: Search, organise, conque

***

### دعوت به داوطلبی

نام پروژه : تهیه و تدارک زینه المونیمی فایبری برای جنکشنها و مدیریت های برق کابل برشنا.
د افغانستان برشنا شرکت از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (تهیه و تدارک زینه المونیمی فایبری برای جنکشنها و مدیریت های برق کابل برشنا) دارای کود نمبر (برشنا/۰۱۰٦/اجناس/۱٤٤۵/داوطلبی باز ملی اعلان مجدد) اشتراک نموده و نقل شرطنامه را به شکل سافت از مدیریت تدارکات اجناس بدست آورده ،آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته بروز معین به مدیریت تدارکات اجناس - ریاست تدارکات، تعمیر دفتر مرکزی د افغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ شهر کابل ارایه نمایند. آفر های ناوقت رسیده والکترونیکی قابل پذیرش نبوده تضمین آفر اخذ میگردد
۱: تضمین آفر : مبلغ (۱۸۱۸۰) هژده هزار و یک صدو هشتاد افغانی
۲ زمان جلسه قبل از داوطلبی ساعت : ۱۰:۰۰ قبل از ظهر: ۱۸/ ثور/۱٤۰۳ برگزار میگردد.
۳: آفر گشایی: جلسه آفر گشایی به روز چهار شنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۰۲/جوزا /۱٤۰۳ بر گزار میگردد.
٤: آدرس و محل آفر گشایی : منزل ششم اطاق کنفرانس ریاست تدارکات.
۵: آدرس اداره : تعمیر دفتر مرکزی د افغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ ناحیه سوم شهر کابل.
برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید.
شماره تماس: ۰۷۲۹۰۰٤٦۳۰ /۰۷۲۹۰۰۲۹۳۳
آدرس الکترونیکی:
Janan.karimi@dabs.af
hamed.kamal@dabs.af

## مدیریت تغییرات اقلیمی از اولویت‌های ...

در مرکز رســانه‌های حکومت سخن می‌گفت، خواستار از سرگیری پروژه‌های نیمه‌کار در بخش تغییرات اقلیمی در کشور شد.
معین اداره ملی حفاظت محیط زیســت کشور می‌گوید، موضوعات محیط زیستی باید از سیاست بدور نگهداشته شود.
این مقام اداره ملی حفاظت محیط زیســت کشــور در عین‌زمان خواســتار اشــتراک در کنفرانــس بین‌المللی تغییرات اقلیمی (قاب) که در سال‌جاری میلادی در یکی از کشورهای آسیای مرکزی برگزار می‌شود، شد.
به باور داکتر عابد، نماینده امارت اســلامی با اشتراک در این کنفرانس مطالبات برحق مردم افغانستان را خواستار شده می‌تواند.
گفتنی‌اســت که کنفرانس ملی ســه‌روزه بحث در مورد تغییرات اقلیمی به‌گونه مشترک میان اداره ملی محافظت محیط زیســت و کمیته ناروی در افغانستان، برگزار شده است.

## باشندگان ولسوالی دره پنجشیر ...

پنجشیر این خواست را مطرح کرده‌اند.
در خبرنامــه آمده کــه دیدار کننــدگان با اظهار خرســندی از همکاری مقام ولایت در ســطوح مختلف، ایجاد مدارس دینی برای طبقه اناث را یک نیاز دانسته‌اند.
در همین حال، ملا شــاه ملنگ روح‌الله، معــاون مقام ولایت پنجشــیر گفته که امارت اســلامی توجه خاص برای گسترش علم‌ودانش دارد و توسعه علوم اسلامی از برنامه‌های اساسی در شرایط فعلی است. معاون مقام ولایت اطمینان داده که خواست بزرگان و باشــندگان ولســوالی دره را با مقامات مربوط شریک خواهد ساخت.

## امارت اسلامی کشف گورهای دسته ...

وزارت امور خارجه گفته اســت: ایــن رویداد بی‌تفاوتی و چشم پوشــی جامعه بین المللی به جنایات هولناک رژیم غاصب صهیونیستی پنداشته می‌شود.
این وزارت ضمن اعلام حمایت از مردم فلســطین به شهدا بهشت برین و برای زخمی شده‌ها شفاء عاجل خواستار شده است.
گفتنی‌اســت که اخیراً و پس از بیرون شدن نیروهای رژیم اشغالگر اسراییل از ســاحه خان یونس در شمال نوار غزه، گور دسته جمعی که ده‌ها غیرنظامی به‌شمول زنان و کودکان در آن مدفون شده‌اند، کشف شده است.

## کمیته بین المللی صلیب سرخ باید با ...

اســت: مولــوی صدراعظــم عثمانی معیــن آن وزارت با مارتیــن دی بویر رییــس برنامه‌ها و خانم یورســلا کیالی رییــس مصئونیت اقتصادی کمیته بین‌المللی صلیب ســرخ ملاقات کرد.
در ایــن دیدار مارتین دی بویــر از برنامه‌های آینده صلیب ســرخ در افغانســتان در بخش زراعت، مالداری، آبیاری، تغییــرات اقلیمی، کمک به دهقانان و ســایر معلومات داد و از معین زراعت و مالداری وزارت زراعت خواســت که در قســمت تطبیق برنامه‌های این نهاد حمایت و همکاری نما یند.
بویــر گفــت که این نهــاد در چندیــن ولایت افغانســتان چــون کندهار، هرات، کاپیســا، ننگرهــار، بلخ، بغلان و کندز پروژه‌های زیادی را در راســتای کمک به مالداران، دهقانــان و مردم نیازمنــد تطبیق نموده‌انــد و این برنامه‌ها در ســال‌های آینده نیز ادامه خواهد داشت.
مولوی صدراعظــم عثمانی کار نهاد های بیــن المللی در افغانســتان را با اررزش خواند و از همکاری شــان با آنان اطمینان داد و یاد آور شــد، نیاز اســت که موسســات بین المللــی در هماهنگی با نهاد های بــا افغانی کارنمایند وبا توجه به نیازمندی مردم افغانســتان برنامه ســازی و پروژه سازی کنند.
در این نشســت در مورد اعمار و ترمیم کانال‌های آبیاری، ذخیره‌های آب، دیوارهای اســتنادی، کمک‌های بشری در بدل مــزد، پــاک کاری جوی‌های آب و کاهــش تغییرات اقلیمی نیز صحبت شد.

## معاون نخست‌وزیر قزاقستان در راس هیات عالی‌رتبه ...

قزاق به کابل است.
قرار اســت در حاشــیه این ســفر هیئت قزاق به کابل نشست سه‌جانبه میان افغانستان، ترکمنستان و قزاقستان نیز برگزار شود.
نشســت یادشــده، به هدف تسهیل و توســعه ترانزیت تجارت و سرمایه‌گذاری مشترک، برگزار خواهد شد.
گفتنی‌است که روابط میان افغانستان و کشورهای منطقه روز به روز در حال افزیاش است.

## د ننګرهار ۵۰ مېرمنو ته د شاتو ...

او اروپايي ټولنې په مالي همکاري شوې ده. د مسوولينو په خبره چې د ۵۰ کســيزو مېرمنو ټولنې ته سل صندوقه د شاتو مُچې، د مچيــو لپاره بوره، خالي صندوقونه او نور اړين وســايل ورکړل شــوي دي. د شــاتو مچيو د وېش موخه د دې صنعت پراختيا، مېرمنو ته د کاري زمينو برابرول او د خورو خونديتوب دی.

## ننګرهار کې د اوبو رسونې پروژې ...

موخه بــه ۷ چکډيمونه جوړ او په ټوليــز ډول به ۱۸۰۶ جريبه ځمکه خړوبه شي.
د پــي. ايم. ايس. موسســې اســتازي انجنير ديدار مشــتاق د دغه هوکړه ليک د لاســليکولو پرمهال وويل چــې د کانالونو د خونديتوب او د اوبو د ضايعاتو د مخنيوي په موخه به اســتنادي دېوالونه، سيفونونه، د بستر استر کاري، پلې لارې، د اوبو د وېش دروازې، پلکوټي او نورې اړينې برخې هم جوړې شي.
په ورته وخت کې د ننګرهار مرســتيال والي د يادې موسسې له لوري په ننګرهار کې د اوبولګولو او روغتيايي پروژو د پلي کولو له کبله مننه او قدرداني وکړه او هغوی ته يې د ټولو چارو په ترسره کولو کې د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ.
هېره دې نه وي، چې د يادې پروژې چارې به د روان زيږديز کال په اپريل مياشــت کې پيلېږي او د ۲۰۲۶ زيږديز کال په سپټمبر مياشــت کې پای ته ورسېږي او ګټې اخيستنې ته تر سپارل کېدو وروسته به ياده موسســه د پنځو کلونو لپاره د دغې پروژې حفظ او مراقبت وکړي او تر هغه وروســته به يې د ننګرهار ســينديزې حوزې له لوري ساتنه کېږي.

## د تېرې ادارې نظامي او ملکي کارکوونکي ...

له افغان شخصيتونو سره د تماس کميسيون مسوولينو ويلي چې د تېــرې ادارې کارکوونکو ته په هېــواد کې هېڅ خطر متوجې نه دی او د دوی په ژوند او کار کې څوک د لاسوهنې حق نه لري.
د يادونې وړ ده چې د اميرالمومنين حفظه الله د عفوې د عمومي فرمان د لا ښه تطبيق په موخه د اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی د حکم په اساس له افغان شخصيتونو سره د تماس کميسيون جوړ او پــه فعاليت يې پيل وکړ. دغه کميســيون وايي چې تر دې دمه هېواد ته ۸۳۹ تنه په خپله خوښه راګرځېدلي دي.

## لوګر کې زده کوونکو ته درسي ...

ويلي چې د يونســيف موسســې په همغږۍ د ايــچ. ايچ. او. وي. موسســې په مالي ملاتړ ۲۸۴۲ زده کوونکو سره د درسي کتابونو او درسي توکو مرسته شوې ده.
عــرب زياته کړه، چې په وېشــل شــويو توکو کــې کتابونه او قرطاسيه شامله ده.
د يادونــې وړ ده، چې د يادې مرســتې ســربېره زده کوونکو ته د لاســونو مينځلــو صابونونه او ســيمه ييزو ټولګيــو ته د اوبو ترموزونه، سپينې تختې او مارکرونه هم وېشل شوي دي.

**ډاکټر محمد نعيم:**

# شيخ زنداني د يمن نه؛ بلکې د ټولې اسلامي نړۍ عالم و

په دوحه کې د افغانســتان اسلامي امارت ســفارت سرپرست ډاکتر محمد نعيم د اســلامي نړۍ د وتلي عالم شــيخ عبد المجيد زنداني رحمه الله د فاتحې او تعزيت کتاب پرانستې په مراسمو کې ګډون وکړ.
دغه مراسم دوحه کې د يمن په سفارت ودانۍ کې نيول شوي و.
ډاکتــر محمد نعيم په دوحه کې د يمن ســفير راجح بادي ته او د هغه له لارې د يمن حکومت، ولس او د مرحوم شــيخ صاحب کورنۍ ته د اسلامي امارت او افغان ولس په استازولۍ د تسليت او غمرازۍ مراتب وړاندې کړل
نومــوړي زياته کړه چې مرحوم شــيخ زنداني يوازې د يمن نه بلکې د ټولې اســلامي نړۍ عالم و او د ټولې اسلامي نړۍ او اسلامي امت غم ور ســره و او له همدې کبله د هغوی مړينه د ټولې اســلامي نړۍ لپاره لويه ضايعه ده.
د يادونې وړ ده چې شــيخ زنداني د روسيې د اشغال پر مهال د عملي جهاد په نيت افغانستان ته هم راغلی و.



## نجات او بريا په وحدت ...

دی بلکې زموږ ټول ديني نصــوص او نړيوال تاريخ هم په دې ګواهي وايــي چې اختلاف او کورني جنجالونــه د قومونو د ناکامۍ، خوارۍ او ذلت تر ټولو مهم عوامــل دي خو په مقابل کې يې يووالی، همغږي او همــکاري بيا په هــر صورت او هر کله د نجات، بريا، ســوکالۍ او پرمختــګ ضمانت کوي. د همدغو ثابتو او تجربه شــويو واقعيتونو پر اساس ويلی شــو چې که د مګرۍ افغانان د کورني وضعيت د سمون او خلکو د وحدت لپاره هلــې ځلې ونه کړي، خدای دې نه کړي دغه پــه لاس راغلې بريــا او زرين فرصت به يو ځل بيا هم زموږ له لاســه وځي او ښــايي د تېر په نســبت به لازياتو بد بختيو سره مخ شو. راځئ ټول همدومره غنيمت وګڼو چې د اکثريت هېوادوالو ســر، دين، ناموس او مــال په امن دی او لږ تر لږه د وســه لوال بغاوت لپــاره هيڅ کوم د قناعت وړ دليل نــه ليدل کيږي. نو که په فــردي ډول د نظام له بدلون سره کوم شــخص يا ډلې ته څه مادي زيان رسېدلی وي، دايې اخلاقي مکلفيت دی چې بايد د خپل هيواد او خلکو عمومي ګټې او مصلحت ته نظر وکړي او فقط پر خپل ولس د شــفقت او زړه سوي له امله خپلې ځاني، ګوندي او قومي ګټې شاته وغورځوي او د همدغه موجود نظام په اصلاح او ســمون کې هڅه هاند وکړي. يو ځل بيا ټينګار کوو، چې د اختلاف نتيجه د ښــکېلو اطرافو حتمی ناکامي او د اتحاد پايله د ټولو برى او نجات دی.

## قزاقستان ته د افغانستان صادرات درې ...

تجارتي او ترانزيټي همکاري مخ په پراخېدو ده.
ښاغلي متقي وويل، افغانستان لېواله دی چې له قزاقستان سره تجارتي راکړه ورکړه پراخه کړي.
همداراز د بهرنيو چارو وزير په افغانســتان کې د قزاقستان له سوداګريز رول څخه خوښــي څرګنده کړه او هيله يې وکړه چې افغانســتان کې د کانونو، رېل پټلۍ او برېښــنايي حکومتولۍ برخو کــې پانګونه وکړي.
متقي همداراز يادونه وکړه چې قزاقستان کې د افغانستان د ديپلوماتيک ماموريت کچه لوړه شي.
د بهرنيو چــارو وزير وويل، چې د دواړو هېوادونــو ترمنځ د اړيکو له پراختيا سره پکار ده چې د کابل او استانې ترمنځ مستقيمې الوتنې پيل شي.
د قزاقســتان د لومړي وزير مرســتيال په خپل وار افغانستان سره د خپل هېــواد اړيکې مخ په پراخېدو وګڼلې او زياته يې کړه چې د افغانســتان صادرات قزاقستان ته نژدې درې برابره زيات شوي دي.
ښــاغلي ســريک ژومانګرين وويل، چې په دې سفر کې يې تخنيکي پلاوی ملتيا کوي او په افغانســتان کې به د رېل پټلۍ، کانونو او مشترکو کمپنيو په برخه کې د پانګونې په اړه مفصلې تخنيکي خبرې وکړي.
همداراز ښاغلي ژومانګرين هيله څرګنده کړه چې دواړه لوري وتوانېږي د کابل-استانې ترمنځ مستقيمې الوتنې پيل کړي.
د قزاقســتان د لومړي وزير مرستيال وويل، افغانستان ته د درې ورځني ســفر په ترڅ کې به په کابل کې د افغانستان او قزاقستان ګډ سوداګريز نندارتون پرانيزي.

## د خواف-هرات اوسپنې پټلۍ ...

د دغې پټلۍ چارې په بشپړېدو سره به افغانستان د ايران له بندرونو او له هغې لارې ترکيې او اروپا سره ونښلول شي.
هېره دې نه وي چې د يادې پروژې په بشــپړېدو ســره به د افغانستان په فــراه، نيمروز، هلمند، کندهار او نورو ولايتونو کې د اوســپنې پټلۍ د غځولو لپاره هم زمينه برابره شي.

## مولوی امیرخان متقی خواستار فراهم‌سازی...

مالیزیا وارد افغانستان شده است.
این هیئت پیام وزیــر خارجه مالیزیا را نیز با مولــوی امیرخان متقی، شریک کرده است.
سرپرســت وزارت امــور خارجــه در دیــدار بــا هیئت یادشــده از موضع‌گیری‌های مالیزیا در قبال افغانستان، ستایش کرده است.
در همین حال، هیئــت مالیزیایی در این دیدار ابراز امیدواری کرده که به‌زودی هیئتی از تاجران این کشور به افغانستان سفر خواهد کرد.
گفتنی‌اســت که هیئــت مالیزیا که به افغانســتان آمده با شــماری از مقام‌های امارت اسلامی، دیدار کرده است.

## حقابه ایران از دریای ...

آقــای جهرمی گفتــه که حقابه ایران از دریــای هلمند در پی افزایش بارندگی‌ها از ســوی امارت اســلامی بــه جانب این کشور، رها شده است.
به گفته این مقام دولت ایران، حقابه پرداخت شــده از ســوی افغانســتان در ساحه «جریکه» ولایت سیســتان و بلوچستان، رسیده است.
این در حالی است که دو روز پیش محمد حسن کاظمی قمی، ســفیر و نماینده ایران در امور افغانســتان در دیدار با مولوی امیرخان متقی، سرپرست وزارت امور خارجه، از تامین حقابه ایران از دریای هلمند، تشکر کرده بود.

## گسترش روابط تجاری میان افغانستان، ترکمنستان و ...

فرصت‌هــای ســرمایه گذاری در افغانســتان، از نماینــدگان ادارات خواســت که موضوعات مورد بحث اداره شــان و آجندای ترتیب شده این وزارت را با مقام های مربوطه برای غنامندی بیشــتر شریک کرده با آمادگی کامل در نشســت‌های که با هیئت های اقتصادی ترکمنستان و قزاقستان برگزار می شود اشتراک نمایند.
در ادامه اشتراک‌کنندگان پیرامون آجندای ترتیب شده این وزارت بحث نموده، دیدگان و نظریات شان را شریک کردند.

## د شپږو لويو بندونو بيارغېدنه ...

هېواد کې د اوبو د مديريت لپاره متوازن انکشــاف رامنځته شي.
وزارت زياتوي په دغه برخه کې اوسمهال د ۶ لويو بندونو د جوړولو کار روان دی، چې په جوړېدو ســره به يې د اوبــو مديريت په برخه ګټور ثابت شي.
د اوبو او انرژۍ وزارت زياتوي چې وروســتيو اورښتونو په ټول هېواد کې د چک ډيمونو کاسې ډکې کړې او د لويو بندونو د برېښنا په توليد کې هم د پام وړ زياتوالی راغلی دی.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰٦۲۸۳۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦ / ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Thuesday 25 April 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 436


# امارت اسلامی کشف گورهای دسته جمعی در محوطه شفاخانه ناصر در نوار غزه را محکوم کرد




وزارت امور خارجه کشور پیدا شدن گورهای دسته جمعی غیرنظامیان در محوطه شفاخانه ناصر در ساحه (خان‌یونس) نوار غزا را به شدت محکوم کرده است.

این وزارت با نشر اعلامیه‌ای دیروز بخاطر پیدا شدن گورهای دسته جمعی، ابراز تاسف کرده است.

در اعلامیه وزارت امور خارجه آمده که پیدا شدن این گورها بیانگر مظلومیت مردم بی‌دفاع فلسطین و عدم پای‌بندی رژیم اشغالگر و صهیونیستی اسراییل به قوانین بین‌المللی است. ص۷

## رویدادهای خارجی

### رییسی پس از سفر به پاکستان عازم سریلانکاشد

بربنیاد گزارش‌ها، سید ابرایم رییسی، رییس جمهور ایران پس از سفرش به پاکستان عازم سریلانکا شده است.

آقای رییسی بدنبال سفر سه‌روزه به پاکستان روز گذشته شهر کراچی پاکستان را به مقصد کلمبو، پایتخت سریلانکا ترک کرده است.


رییس جمهوری ایران به دعوت رسمی رانیل ویکر مسینگه، همتای سریلانکایی‌اش به این کشور سفر کرده است.

ابراهیم رییسی در سفرش به پاکستان ضمن دیدار با مقام‌های این کشور تفاهم‌نامه‌های همکاری در بخش‌های مختلف میان تهران و اسلام‌آباد نیز به امضا رسید.

علاوه از این، رییس جمهور ایران از شهرهای لاهور و کراچی پاکستان نیز بازدید کرده است.

پس از تنش‌های اخیر میان پاکستان و ایران، ابرایم رییسی مورد استقبال گرم در پاکستان قرار گرفته است.

### د شمالي کوریا لوړپوړی پلاوی تهران ته رسېدلی



د کوریا دولتي خبري اژانس خبر ورکړی، چې د شمالي کوریا یو سوداګریز پلاوی، چې مشري يې د دغه هېواد د بهرني تجارت وزير يون جونګ هو کوي، ورمه ورځ ایران ته تللی دی.

د جنوبي کوریا یو اژانس (یونهاپ) بیا ویلي، چې ممکن د دغه سفر موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ د نظامي همکاریو زیاتوالی او پیاوړتیا وي.

باید وویل شي، چې مخکې تر دې د شمالي کوریا یو پلاوی په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې ایران ته سفر کړی و.

ایراني چارواکو او رسنیو د شمالي کوریا د دغه پلاوي د سفر په اړه تر اوسه څه نه دي ویلي، خو باید وویل شي، ایران په منځني ختیځ او شمالي کوریا په ارام سمندر او کوریا ټاپووزمه کې له امریکا او ځینو نورو هېوادونو سره پراخې ستونزې لري.

### قطر: هیچ طرحی برای بستن دفتر سیاسی حماس در دوحه روی دست نیست

به تعقیب نشر گزارش‌هایی که نشان می‌داد رهبران سیاسی حماس گزینه‌ی ترک قطر را بررسی می‌کنند، وزارت خارجه قطر به‌تازگی اعلام کرده که دوحه هیچ برنامه‌ای برای بستن دفتر حماس در قطر ندارد.

این وزارت گفته است تا زمانی که حضور حماس در دوحه برای تلاش‌های میانجی‌گری در زمینه‌ی تبادله‌ی زندانیان و دست‌یافتن به توافق آتش‌بس مفید و مثبت باشد، این گروه در دوحه باقی خواهد ماند.

مجید الانصاری، سخنگوی وزارت خارجه قطر که روز گذشته در یک کنفرانس مطبوعاتی صحبت می‌کرد به خبرنگاران گفت که قطر همچنان متعهد به میانجیگری در جنگ غزه است.

این در حالی است که وال استریت ژورنال در گزارشی که روز شنبه، بیستم اپریل منتشر کرد نوشت که رهبران سیاسی حماس در آستانه‌ی خروج از پایگاه فعلی خود در قطر هستند، زیرا قانونگذاران ایالات متحده بر دولت قطر فشار می آورند تا مذاکرات آتش بس را انجام دهد که به نظر می رسد با شکست مواجه شده است.

رهبران سیاسی حماس به شمول اسماعیل هنیه از سال ۲۰۱۲ میلادی در دوحه، پایتخت قطر اقامت دارند و دفتر سیاسی این گروه در دوحه بخش عمده‌ی مذاکرات با اسراییل و متحدان آن را به‌پیش می‌برند.

حماس تاکنون به‌گونه‌ی رسمی در این مورد چیزی نگفته است.

**توجه !**

**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**

### کمیته بین المللی صلیب سرخ باید با توجه به نیازمندی مردم افغانستان پروژه سازی کنند




سرپرست وزارت زراعت آبیاری و مالداری در دیدار با رییس مصونیت اقتصادی کمیته بین‌المللی صلیب سرخ از آنان خواست که تلاش نمایند، پروژه‌های شان را با توجه به نیازمندی مردم افغانستان راه اندازی کنند.

دفتر مطبوعاتی وزارت زراعت آبیاری و مالداری امروز با نشر این خبر گفته ... ص۷

### معاون نخست‌وزیر قزاقستان در راس هیئت عالی‌رتبه وارد کابل شد

سریک ژومانگارین، معاون نخست‌وزیر قزاقستان در راس هیئت عالی‌رتبه این کشور، وارد کابل شده است.

آقای ژومانگارین دیروز از سوی نورالدین عزیزی، سرپرست وزارت صنعت و تجارت کشور در میدان هوایی بین‌المللی کابل، مورد استقبال قرار گرفته است.

هدف از سفر معاون نخست‌وزیر قزاقستان به کابل تحکیم روابط و گشایش نمایشگاه مشترک تولیدات افغانستان–قزاقستان، گفته شده است.

گفته شده که کنفرانس تواصل تجاری میان افغانستان و قزاقستان نیز از دیگر اهداف سفر این هیئت بلندپایه ... ص۷

### د ننګرهار ۵۰ مېرمنو ته د شاتو مچیو کاري وسایل ورکړل شول



د ننګرهار په کامې ولسوالۍ کې ۵۰ مېرمنو ته د کټې وټې په موخه د شاتو د مچیو ګڼ وسایل ورکړل شول.

د ننګرهار د کرنې ریاست مسوولین ویلي، چې دغه مرسته د یاد ریاست تر چتر لاندې د هالنډ کمېټې په تخنیکي ... ۷مخ

### د تېرې اداري نظامي او ملکي کارکوونکي دې هېواد ته راستانه شي

له افغان شخصیتونو سره د تماس کمیسیون یوځل بیا پر بهرمېشتو افغانانو غږ کړی چې هېواد ته راستانه شي او د هېواد په بیارغونه کې ونډه واخلي. دغه کمیسیون ویلي چې د تېرې اداري ټول نظامیان او ملکي کارکوونکي دې هېواد ته راو ګرځي او د رسنیو پر معرضو اوازو ونه غولېږي.

کمیسیون په یوه اعلامیه کې لیکلي: هېڅ کوم لوری د دې اجازه نه لري، چې د تېرې اداري کسان په دې وجه چې په تېره اداره کې یې کار کړی، وځوروي او ګواښ ورته متوجه کړي. ۷مخ


### ننګرهار کې د اوبو رسونې پروژې پلې کیږي




د ننګرهار په نازیانو ولسوالۍ کې د ۱.۸ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د اوبولګولو پروژې د پلي کولو درې اړخیز هوکړه لیک د دغه ولایت د مرستیال والي مولوي سعید احمد بنوري، د ننګرهار سیندیزې حوزې رئیس سید فضل احد هاشمي او د جاپان د پي. ایم. اېس مسؤلې فوجیتا ترمنځ لاسلیک شو.

د دغه هوکړه لیک له مخې به په نازیانو ولسوالۍ کې د نوموړې موسسې له لوري د ننګرهار سیندیزې حوزې په چوکاټ کې د نهه کیلو متره په اوږدوالي سره څلور کانالونه، ۱۲چینې او یو کاریز په بنسټیز ډول ورغول شي او د باران اوبو د ذخیره کولو په ... ۷مخ

### ساخت یک کانال آب در پکتیا



قراراست یک کانال آبیاری درشهر گردیز، مرکز پکتیا، ساخته شود،انتظارمی رود با ساخت این کانال آب صدها جریب کشتزار تامین شود.

این کانال، به درازای سه صدو پنجاه متر، آب سرچشمه یی را به کشتزارها درساحه ی شیخ های شهرگردیز، انتقال خواهد داد.

نهاد هبیتات، برای ساخت این کانال آبیاری که تا دو ماه تکمیل می شود، پنجاه هزار دالر هزینه می پردازند.

### لوګر کې زده کوونکو ته درسي توکي ووېشل شول

په لوګر کې د سیمه ییزو ټولګیو نږدې ۳۰۰۰ زده کوونکو سره د درسي موادو مرسته شوې ده.

د یاد ولایت د پوهنې ریاست ویاند شاه پور عرب د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته ... ۷مخ

